# د عبدالله د بیا میشتیدنی تجربه:

## په بریتانیا کې د ژوندکولو توقعات

مخکې له دې چې عبدالله خبر شي چې هغه او کورنۍ به یې د ۲۰۱۸ کال په پیل کې بریتانیا ته ستنیږي، د بر یتانیا د کلتور او تاریخ په اړه د هغوی پوهه ډېره محدوده وه. هغه څه چې هغوی پوهیدل دا وو چې بریتانیا له بیلابیلو قومونو څخه جوړ شوی ده ،هغه هیواد چې خلک چای ته ډیره توجه کوی ، هلته په مختلفولهجو خلک خبری کوی ، او د دوی ملکه خورا روښانه رنګی جامې اغوندي.

کله چې هغه پوهه شو چې هغه، د هغه میرمن او ماشوم به اکسفورډ ته راستانه شي، هغه نه یوازې چې خور یې په دې وروستیو کې هلته اکسفورډ کی میشته شوې وه، بلکې هغه د مشهور پوهنتون په اړه هم هغه ځای پیژاند او فکر یې کاوه چې هرڅوک باید هلته مناسب او اسانه لهجه و کاروی.

## سفر ته انتظار

د ټولو هغو مهاجرو په څیر چې د بیا میشتیدني لپاره په پام کې نیول شوي، عبدالله نه شوای کولای چې خوښ کړی چې په کوم هیواد کې میشت شي. په اردن کې، چیرته چې د هغه کورنۍ پناه غوښتې وه، هغه خپل ورځنۍ ژوند کاوه او د ځایی ټولنې له تبعیض سره مخ و. هغه په بل ملک کی بیا میشتیدنه د خپل ځان او کورنۍ لپاره د نوي ژوند پیل کولو فرصت په توګه لیدل. کله چې UNHCR هغه ته زنګ وواهه او وویل چې دوی به بریتانیا ته د بیا میشتیدني لپاره په پام کې نیول شوی، هغه ډیر خوشحاله و.

انګلستان ته د UNHCR د مرکې څخه په شپږو میاشتو کې، عبدالله او د هغه میرمن د IOM سره د کلتوري تمایلاتو اړین ټولګیو کې ګډون وکړ ترڅو چې په بریتانیا کې د ژوند کولو په هکله نور هم پوه شي. دا ټولګی یوازې د دوه ورځې لپاره دوام وکړ او هغوی ته ویل شوي وه چې هغوی به د پنځو کلونو لپاره انګلیسي ژبه زده کړي او په دې موده کې به حکومت د هغوی سره مرسته وکړي. ښوونکي دی کورنیو ته لارښوونه کړی وه چې انګلیسي ژبه ژر مه زده کوی، که نه نو دوی به کار ته اړ کړای شي او خپلې دولتي ګټي (بنفیټ) به له لاسه ورکړي. کله چې هغوی دلته راورسیدل دوی شاګه شول دوی پوه شو چې قضیه هغه ډول نه وه چې ښوونکی بیان کړی وه.*

یوه ورځ یو چا عبدالله ته زنګ وواهه او ورته یې وویل چې کورنۍ به یې په اکسفورډ کې د ټولنې د سپانسرشپ ګروپ سره یو ځای کیږي. هغه ته وویل شول چې ګروپ به د هغه د کورنۍ لپاره هرڅه وکړي. له دې امله چې خور یې پخوا په اکسفورډ کې اوسېده، د ګروپ غړو وکولای شول چې د هغې له لارې له عبدالله سره اړیکه ونیسي. ** دوی هغه ته خپل کور په ګوګل نقشه کې وښود او هغه ته یې د هغه ملاتړ په اړه وویل چې دوی به ورته اجرا کړي. دوی په دې پوهیدل چې څوک به په هوایی ډګر کې د هغه او د هغه کورنۍ ښه راغلاست ویلو لپاره د بریتانیا ته سفر د عصبي ویرې پرځای په زړه پورې کړی.

## ژوند او عنعنې په بریتانیا کې

عبدالله مخکې له دې چې له سوریې وتښتي، په حلب کې په پوهنتون کې زده کړې کولې، چې د ده په باور بریتانیا ته له رسېدو سره سم یې د انګلیسي ژبې پر پوهې او زده کړې تمرکز اسانه کړ. که څه هم د هغه د راتګ دمخه د هغه انګلیسي ژبې مهارت ډیر محدود وه فقط "سلام، تاسو څنګه یاست" یی زده وه، هغه خپل ځان ژمن کړ او ژر یې انګلیسی ژبه زده کړه. هغه حتی په اکسفورډ کې د څو میاشتو وروسته په محلي موزیم کې رضاکارانه کار پیل کړ چې هغه وکولای شول په بریتانیا کې په لومړي کال کې د معاش سره ښه کار لاس ته راوړی.

په اکسفورډ کې، د سوريې او منځني ختيځ يوه لويه ټولنه شتون لري، نو د عبدالله کورنی کولی شي د خپلې خوښې ټول خواړه هلته ترلاسه کړي او مهمی رخصتي د خپلې ټولني له خلکو سره ولمانځي. هغه خوښ دی چې هغه او د هغه کورنی کولای شي خپل کلتور وساتي پداسي حال کې چې دوی په سيمه ايزه ټولنه کې منل شوي او هغوی احساس کوي چې په بريتانيا کې خلک د سوريې په پرتله د برياليتوب ښه چانس لري. هغوی وياړي چې سوريايي دی او د خپل تاريخ او خواړو سره مينه لري - هغه يوازې هيله لري چې د برتانيا خلک د اوسني وضعيت تمرکز کولو پرځای د سوريې د بډايه کلتور په اړه ډير پوه شي.

*(يادونه : د IOM کلتوري تمايل ټولګي د بياکتني پروسي څخه تير شوي دی او د 2018 له پيل راهيسي خورا ښه شوي دي).

** د ټولنې سپانسرشپ ګروپونه په ندرت سره د دې وړتيا لري چې د چا کورنی سره اړيکه ونيسي چې دوی يې ملاتړ کوي البته مخکې لدې چې دوی بريتانيا ته راشي. په دې حالت کې، د عبدالله د خور د اړيکو جزئيات د هغه په UNHCR RRF کې ليکل شوي او ګروپ وتوانيد چې له هغې سره اړيکه ونيسي.